مَثَلُ الْمُؤْمِنِ الَّذِي يَقْرَأُ الْقُرْآنَ كَمَثَلِ الْأُتْرُجَّةِ، رِيحُهَا طَيِّبٌ وَطَعْمُهَا طَيِّبٌ، وَمَثَلُ الْمُؤْمِنِ الَّذِي لَا يَقْرَأُ الْقُرْآنَ كَمَثَلِ التَّمْرَةِ، لَا رِيحَ لَهَا وَطَعْمُهَا حُلْوٌ

له ابو موسى الأشعري - رضي الله عنه - څخه روايت دى وايي چې : رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: «مَثَلُ الْمُؤْمِنِ الَّذِي يَقْرَأُ الْقُرْآنَ كَمَثَلِ الْأُتْرُجَّةِ، رِيحُهَا طَيِّبٌ وَطَعْمُهَا طَيِّبٌ، وَمَثَلُ الْمُؤْمِنِ الَّذِي لَا يَقْرَأُ الْقُرْآنَ كَمَثَلِ التَّمْرَةِ، لَا رِيحَ لَهَا وَطَعْمُهَا حُلْوٌ، وَمَثَلُ الْمُنَافِقِ الَّذِي يَقْرَأُ الْقُرْآنَ مَثَلُ الرَّيْحَانَةِ، رِيحُهَا طَيِّبٌ وَطَعْمُهَا مُرٌّ، وَمَثَلُ الْمُنَافِقِ الَّذِي لَا يَقْرَأُ الْقُرْآنَ كَمَثَلِ الْحَنْظَلَةِ، لَيْسَ لَهَا رِيحٌ وَطَعْمُهَا مُرٌّ». «د هغه مؤمن مثال چې قرآن لولي د ترنج په څېر دى چې بوى يې ښايسته او خوند يې خوندور وي او د هغه مؤمن مثال چې قرآن نه لولي، د خرما په څېر دى چې بوى نه لري او خوند يې ښايسته دى، او د هغه منافق مثال چې قرآن لولي د ريحان يا کشمالي په څېر دى چې بوى يې ښايسته دى او خوند يې تريخ، او د هغه منافق مثال چې قران نه لولي د مڑغوني په څېر دى چې نه بوى لري او خوند يې تريخ دى».

[صحيح دى] [متفق عليه دى]

رسول الله صلى الله عليه وسلم د قرآن كريم په لوستلو او ورځخه ګټې اخيستلو کې د خلکو ډولونه بيان کړل: لومړۍ ډول: هغه مؤمن دى چې قرآن لولي او ګټه ترې اخلي، نو هغه د ترنج د ميوې په څېر دى، چې ښايسته خوند، بوى او رنګ لري، او ګټې يې ډيرې دي، هغه چې څه لولي نو عمل پرې کوي او د الله بندګانو ته ګټه رسوي. دويم ډول: هغه مؤمن دى چې قرآن نه لولي، نو هغه د خرما په څېر دى چې خوند يې خور دى خو بوى نه لري، په زړه کې يې ايمان داسې ځاى نيولى لکه خوروالى چې د خرما په خوند او باطن کې دى، او په ښکاره بوى نه لري چې خلک يې بوى کړي؛ ځکه له هغه څخه داسې قرآن لوستل نه ليدل کيږي چې خلک يې په اوربدلو راحت شي. دريم ډول: هغه منافق دى چې قرآن لولي، نو هغه د ريحان يا کشمالي په څېر دى چې بوى يې ښايسته وي او خوند يې تريخ وي، ځکه چې زړه يې د ايمان لپاره اصلاح شوى ندى او په قرآن يې عمل ندى کړى، او خلکو ته ځان ښيي چې مومن دى، نو ښايسته بوى يې د تلاوت په څېر ښايسته والي ته ورته دى، او تريخ خوند يې کفر ته ورته والى لري. څلورم ډول: هغه منافق دى چې قرآن نه لولي، نو هغه د مڑغوني په شان دى، چې بوى نه لري او خوند يې تريخ دى، نو د بوى نشتوالى يې د بوى نشتوالى ته ورته دى. ځکه چې قرآن نه لولي، او د خوند تريخ والى يې د کفر تريخ والي ته ورته دى، باطن يې له ايمان نه خالي دى، او ظاهر يې ګټه نه لري، بلکې ضرري دى.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/6258